آصف بهاند ۲۰۱۳/۱۱/۱۴

# « څه کړمه خدایه چې د غم د پاسه غم دی »

بیا ویردی او د ویرغږ. د پښتوادب له بڼ څخه استاد نصرالله حافظ هم مرورشو.
کلونه پخوا استاد نصرالله حافظ د څوګوتوپه شماربې دردانو په باب ویلي ووچې:

حافظ د بـــې دردانو په څیرنه ګرځــمه نور        شریک مې چې په غم شي نوغمخوربه وګورم

له بده مرغه چې بې دردي ډیره شوې او ډیری خلک په بیدردانو پسې روان هم دي.اوس چې د حافظ وطن او د حافظ ګلستان ګران افغانستان له بې دردانو ډک دی، دی هم ډک زړه ورنه کډه شو.
ما د لومړي ځل له پاره استاد نصرالله حافظ د کابل راډیو د پل باغ عمومي په ستدیوګانوکې ولید.جګه دنګه ونه، مسکۍ خوله اوهرکله د افغانستان د هنراو فرهنګ په باب لکه انسایکلوپیدیا له معلوماتوډک.
هغه وخت چې په آسانه چا د راډیوانګړ ته هم نه پرېښودلم، دی به چې راسره مخامخ شو، په تاوده هرکلي به یې داسې ولمانځلم چې اوس یې هم جذبې او ولولې زما په فکر او ذهن په تا خانوکې لکه زما د ژوند زرینې پاڼې راسره خوندي دي.
دا د۱۳۵۴ل کال د پای او د۱۳۵۵ ل کال د پیل کیسه ده چې زه لطیف لالا(ډاکترلطیف بهاند)راډیو ته بوتلم او د « زراویوه شپه » په داستان کې یې یو وړوکی رول راکړی و.ما رول هغسې چې ښایي نه شو لوبولی، د لطیف لالا په څنګ کې استاد حافظ هم په ستدیوکې ولاړ و.زما ښه په یاد دي چې حافظ صاحب به یوه خبره، یوه جمله او یو دیالوګ څوځلې په نرمه لهجه او مهربانۍ راته تکراراوه، ترڅوبه چې زه د خپل رول لوبولوته چمتوشوم، خوکله چې ۱۳۵۶ ل کال په پیل کې زما د پوهنتون درسونه وروسته له غرمې شول، بیا ما ونه شوکړای چې په راډیو کې د تمثیل هنر ته دوام ورکړم.حافظ صاحب به هرکله چې لیدلم نوبیا بیا به یې راډیو ته دورتګ اوتمثیل بلنه راکوله.
له هغې ورځې چې دی ما پیژندلی دی، بیا د ژوند ترپایه پورې په ده کې د نوي نسل  دروزلو فکر او روحیه موجوده وه او هرکله به یې ځوانان هڅول چې زدکړه وکړي اومخ پر وړاندې ولاړشي.
دا د۱۳۶۳ کال دوروستیو ورځوخبره ده چې دپل باغ عمومي په ستدیو ګانوکې دحمزه شینواري په دې بیت پسرلنۍ مشاعره جوړیدونکې وه:

**چې پسرلی په موسیدوښکاري**

ما دې مشاعرې ته یوشعرلیکلی و، چې یوڅو بیتونه یې دا دی:

څو پسرلي دي چې دې لار څارمه        راشه چې لار په ورکیدوښکاري
صبرمې وسو د هجران په اورکــې        د ژونـد پیــاله په ډکیـدو ښـکاري
چې دې راتګ نه لړ.خبرغوندې شي        بیـا مـې لیمه په څځیـدو ښــکاري
ښکاري چې لړ شوله هغه مینه دې        داغ د لالــه پـه کمــیدو ښــکاري
کله به جوړشي دا نیمګړی ژوندون        لاړه ځـوانــي پـه زړیدو ښـکاري
حمـزه شوپلاردغزل ښـه وشـــولـو        اوس یې هرجاج په غوړیدوښکاري

کله چې ما دا شعر واوراوه او له ستیژنه بیرته خپل ځای ته روان وم، نو دی را جګ شو په غیږ.کې یې ونیولم، ښکل یې کړم او راته وې ویل:
« بهاند صاحب، آصف جانه!
ډیرښکلی و،
د شعر په اوریدودې ډیرخوشاله شوم، خدای دې نور وس هم درکړي چې همداسې شعرونه ولیکې.»
په دې ډول حافظ پرته له ما نه هر څوک تشویقول. بیا نوپه پوهنتون کې زما د تدریس اوعلمي کارونو او د نوي ژوند د مصروفیتونوپه خاطر راډیو او تلویزون ته زما ورتګ کم شو، خوکله چې ما د راډیو د روزنې په اداره کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د« موږ او اوریدونکي» پروګرام د لیکوال په توګه قراردادي کار پیل کړ، نویوه ورځ استاد نصرالله حافظ په داسي حال کي د رادیو په انګړکي په مخه راغی چي زه د روزني اداري ته روان وم.ده د ګیلي له مخي را ته وویل:
« ګوره بهاند صاحب!
ته خو زموږه وي، دهنر او ادبیاتو د اداري وي، ته باید زموږ اداري سره مرسته وکړي او.»
ما ورته وویل چي دا هم د رادیو یوه څانګه ده، دا یوعلمي پروګرام دی، او زما پوهنتوني وظیفه دا ایجابوي چي دلته ښه همکاري وکړم او.
ده راغبرګه کړه:
« سمه ده بهاند صاحب، هرچیرې چي ته خوشاله یې، مقصد چي یو فرهنګي کاروشي چي دا وطن کار ته اړتیا لري»
کله به چي ورسره کیناستي، هره خبره یې د شعرخبره وه، د هنر او د فرهنګ خبره وه.یوه ورځ د پل باغ عمومي د ستدیو ګانوپه کوم د فترکي ورسره ناست وم،چیرې په کوم ځای کي ډیر ورو د قدیم د یوې سندرې غږراته:
رواواړوه څنې راوړي مي ګلونه...
ما پوښتنه ځیني وکړه چي حافظ صاحب دا قدیم څه ډول رادیو ته راغی؟
ده د هغي همیشنې مهرباني له مخي چي درلودله یې، رادیو ته د قدیم د راتګ اوږود داستان راته بیان کړ، چي دلته یې زه لنډیزراوړم.ده وویل:
« یوه ورځ په دفتر(پل باغ عمومي ستدیوګاني) کي ناست وم چي چپراسي راغی وې ویل چي صاحب څوک راغلی دی اوغواړي چي دننه راشي، وایي چي سندر غاړی دی، سندرې وایي.ما ورته وویل چي رادې شي.
ګورم چي یو زلمی دفترته راننوت،« سه تار»یې پر اوږه اړولی دی.ما وروسته له ستړي مه شي نه د ناستي ست ورته وکړاوله یو څوخبرو وروسته مي پوښتنه ورنه وکړه چي څه غواړي.هغه وویل چي « سندربول » دی اوغواړي چي د رادیو له پاره سندرې ثبت کړي.ماورته وویل چي باجه غږولی شي؟
هغه سمدلاسه « سه تار» ته لاس ونیو چي زه دا غږومه.ما د امتحان په غرض ورته وویل چي:
زلمیه!
ته خولږې ګوتي وروړه!
زما له دې جملي سره سم قدیم په نرمی سره ماته وکتل.ما ولیدل چي زما د پوښتني په مقابل کي د ده په سترګوکي دخوابونو یو لښکرراروان دی.ورویې « سه تار» ته لاس کړ.داسي په نرمی اومهرباني سره یې راواخست لکه مورچي خپل اولاد را اخلي.په غیرکي یې کینبود، په لاس یې لږڅه غوږونه ورتاوکړل، بل لاس یې لاندې تارونوته ورنږدې کړ، بیا یې ماته وکتل سترګي یې وروشانته پټي کړې او داسي غږیې له « سه تار» نه جګ کړ چي د هراوریدونکي زړه یې ځان ته ورکاوه.له هغه غږ سره سم یې زما زړه له ګوګل نه راویست.
قدیم څو لنډې شیبې د خپلوهنرمندو ګوتو کمال مورته وښوده اوله آرامیدوسره سم یې غاړه داسي کږه کړه چي:
څنګه وصاحب؟
ماورته وویل:
ډیره ښه وه ځوانه،
ته کولای شي چي سندرې ثبت کړې او...
او له هغه نه وروسته قدیم ته ما د ثبت زمینه برابره کړه اوسندرې یې پرله پسي له رادیو نه خپریدې.ډیره لنډه موده وروسته په سل ګونو لا زرګونه لیکونه رادیو ته راتلل چي دا زلمی څوک دي؟
په دې ډول استاد نصرالله حافظ یوه نه، دوه نه، بلکي په لسګونواوسل ګونوداسي کسان تشویق کړي دي، روزلي دي او رادیوتلویزیون ته یې راوستي دي چي بیا هغوی د فرهنګ د ډګر نومیالی څیرې جوړې شوې دي.
د استاد نصرالله حافظ فرهنګي کارونو او فرهنګي ژوند ته په کتوسره زه د ده فرهنګي کارونه په څلوروبرخوویشم:
۱- د رادیوافغانستان په بیلابیلو څانګو کي د ممثلینو او سندرغاړو له پاره د داستانونو او شعرونو برابرول او د هغوی ډایرکت یا لارښوونه.
۲- په رادیو او تلویزیون کي د بیلا بیلو پروګرامونو لوستل او د شعرونو دکلمه.
۳- تحقیق اوڅیړنه.
۴- تخلیق.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

استاد نصرالله حافظ سرله نن (۲۰۱۳/۱۱/۱۴) نه نور زموږ په منځ کې فزيکي موجوديت نه لري، خو د خپلوترسره کړو ټولو فرهنګي کارونو په خاطر به د تل له پاره له ټولونسلونو سره ژوندی وي اوکارونه به يې د هغوی له پاره سرمشق وي.
د استاد نصرالله حافظ په باب بايد ډيرڅه وويل شي، مقالې اوکتابونه بايد وليکل شي، خوزه د اوس له پاره په همدې خبروبسنه کوم او د خپلو خبرو په پای کې تاسو درانه لوستونکي لومړی د ده د يوه عاشقانه له درده ډک غزل لوستلوته رابولم اوبيا به ځوهغه انځورونه وګورئ چې په بيړه ما په خپل آرشيف کې پيدا کړل.
دا هم غزل:

بانه مې سيل د ګلـودی څه نور به وګـورم　　او ته چـې په کې اوسې هغه کور به وګورم
لږودريږه چې ودې کړم دتوروسترګـوسيل　　ستـا سـترګوکـې دخپلوسترګوتـوربـه وګـورم
نسيم مې که د وصـل په ګلـشن نه شو ګـذر　　بيلتون مې چې پرې سيځي هغه اوربه وګورم
تکل مې دی چې شم دې په درشل کې قرباني　　کـه نغده پيدا نــه شوه چيرتــه پوربــه وګورم
حافظ د بيـدردانــوپـه ځيرنــه ګـرځمـه نــور　　شريک مې چې په غم شی نوغمخوربه وګورم

اودا هم د استاد نصرالله حافظ ځوعکسونه:



له ښۍ خوانه ډاکتراقبال فنا،استادنصرالله حافظ اوآصف بهاند.( په کابل کې يوه نا رسمي مشاعره)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ



استاد نصرالله حافظ ( کابل پوهنتون،د علامه رشا اویایمه کلیزه)

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ